# پر ځينو خلکو څه شوي دي چې په لمانځه کې سترګې اسمان ته پورته کوي» نو په دې اړه يې خبره سخته کړه، تر دې چې ويې ويل: «هغوی دې له دې کاره لاس واخلي، که نه نو سترګې به يې واخيستل شي

له انس بن مالک رضي الله عنه څخه روايت دی وايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي: «پر ځينو خلکو څه شوي دي چې په لمانځه کې سترګې اسمان ته پورته کوي» نو په دې اړه يې خبره سخته کړه، تر دې چې ويې ويل: «هغوی دې له دې کاره لاس واخلي، که نه نو سترګې به يې واخيستل شي».

[صحيح دی] [بخاري روايت کړی دی]

نبي  هغو کسانو ته خبرداری ورکړی چې په لمانځه کې د دعا او يا بل څه پر مهال سترګې اسمان ته پورته کوي (پورته ګوري)، بيا يې په دې اړه سخت ممانعت وکړ او ګواښ يې وکړ، چې څوک دا کار کوي، د هغوی د سترګو په اړه وېره شته چې ناڅاپه تري واخيستل شي، په داسې چتک سره چې هغوی به خبر هم نه شي مګر دا چې د بينايۍ نعمت به يې له لاسه ورکړی وي.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/10883